طلوع افغان

نبوي مرغلري
رسول الله (ص) فرمايلي دي:
ژباړه: د حسد او بغض څخه ځان وساتئ، ځکه چي حسد او بغض نېکي داسي خوري لکه اور چي بوټي خوري.
(رواه ابو داؤد)

پښتو خبري
حضرت علي (رض):
"خوشبخته به د آخرت غم خوروي او بدبخته به د دنيا غم خوروي".

د امتياز څښتن:
د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، شنبه ۹ /ذوالقعدة الحرام/ ۱۴۴۵ هـ ق، ۲۹/غويی/ ۱۴۰۳ ل کال – ګڼه (۸)

Saturday-18-May-2024 Issue: 8

الهام محکموف: د افغانستان او ازبکستان ترمنځ ګمرکي او سرحدي خدمات ۲۴ ساعته کولو ته چمتو يو

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت سرپرست مولوي امير خان متقي د ازبکستان د ترانسپورټ وزير الهام محکموف، د دې هيواد د ولسمشر له ځانګړي استازي عصمت الله ايرګشوف او مل پلاوي سره وکتل.

په کتنه کي د افغانستان او ازبکستان ترمنځ پر دوه اړخيزو سياسي، اقتصادي، د سيمه ييز اتصال ترانزيټي پروژو، سوداګرۍ، ګډي پانګوني، کلتوري او په سيمه کي د افغانستان او ازبکستان پر ترانزيټي رول او اهميت خبري وکړې.

مولوي امير خان متقي په سياسي او اقتصادي مسايلو کي د ازبکستان له ملاتړي رول څخه مننه وکړه او د دې هڅو پر تداوم او پراختيا يې ټينګار وکړ او زياته يې کړه، افغانستان تر اوږدې مودې وروسته د امن او ثبات مسير ته راګرځېدلی او دا د ازبکستان، نورو ګاونډيو او سيمي له پاره يو ښه فرصت دی چي له موقع استفاده وکړي او د اسلامي امارت د اقتصاد محوره سيمه ييز اتصال پاليسي چي نه يوازي افغانستان، بلکي ټولو ګاونډيو او سيمي له پاره به د اقتصادي او امنيتي ثبات زيری ولري، ملاتړ وکړي او د سترو اقتصادي پروژو تطبيق له پاره موجوده هڅي نوري هم چټکي کړي.

د ازبکستان د ترانسپورټ وزير وويل: «دا وار له يو قوي تخنيکي ټيم سره چي پر خصوصي سکټور سربېره د اوسپني پټلۍ، جيولوجي او معدن تکړه انجينران مو ملتيا کوي، کابل ته راغلي يو او غواړو افغانانو ته ښه زيری ولرو.» او زياته يې کړه: «د ازبکستان جمهور رئيس او رهبري افغانستان ته جدي توجه لري او غواړم د رهبري په استازيتوب تاسو ته ډاډ درکړم چي موږ د اسلامي امارت له هغي پاليسۍ ملاتړ کوو، چي غواړي افغانستان د سيمي په ترانزيټي مرکز بدل سي.»

د هغه په خبره، د افغان – ټرانس پروژې عملي پيل او امکان سنجۍ له پاره يې د انجينرانو يو ټيم له ځان سره راوستلی او په همدې اوونۍ کي يې په تعقيب بل پلاوی له تجهيزاتو سره افغانستان ته راځي چي د افغانستان د اوسپني پټلۍ او نورو اړوندو ادارو سره به عملاً خپل کار پيل کړي. او څرګنده يې کړه: «د دې ترڅنګ مو يو بل ټيم د جيولوجي او معدن په برخه کي ملتيا کوي او دوی به د افغانستان معادنونو او پټروليم وزارت چارواکو سره مجلسونه ولري چي د نفتو، ګازو اکتشاف او استخراج او همدا راز نوري هغه برخي چي اسلامي امارت اړوندي ادارې يې را په ګوته کړي؛ موږ عملي کار ته چمتو يو.»

د هغه په قول، د افغانستان او ازبکستان ترمنځ ګمرکي او سرحدي خدمات ۲۴ ساعته کولو ته چمتو يو، ترڅو د دواړو هيوادونو ترمنځ؛ ۴مخ

د احمد شاهي حوض له ترميماتي چارو نظارت تر سره سو

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني د دوشنبې په ورځ، د هنر او فرهنګ د آمر عبدالشکور څپاند په ملتيا، سپين بولدک ولسوالۍ ته ولاړی او هلته يې د احمدشاهي حوض له ترميماتي چارو نظارت تر سره کړ او هلته يې انجينرانو ته په اړينو برخو کي مهمي لارښووني او سپارښتني وکړې.

د يادولو وړ ده، چي احمدشاهي حوض د کندهار يو له تاريخي آبدو څخه شمېرل کېږي، چي اساسي ۴مخ

کندهار والي: د افغانانو رښتيني انځور دي له نړۍ والو سره شريک سي

د ملګرو ملتونو د اداري او بودجوي چارو مشورتي کمېټې يوه پلاوي له کندهار والي سره وکتل.

د راغلي پلاوي مشر بارچر بونګ عبدالله له کندهار والي حاجي ملا شېرين اخند سره په ليدنه کي ويلي، د سفر هدف يې د پرمختيايي او بيارغوني پروژو په برخه کي د ملګرو ملتونو اړوند ادارو بودجه د اړتياوو مطابق معلومول دي او په خپل څلور ورځني سفر کي يې لومړيتوبونه معلوم کړل، چي تر ټولو ډېر د بيارغوني برخي ته اړتيا ليدل کېږي.

هغه د امنيت د ټينګښت، د نشه يي توکو د مخنيوي، د پرمختيايي پروژو د تطبيق، د فساد ختمولو او په يو شمېر نورو برخو کي د اسلامي امارت لاسته راوړني وستايلې.

وروسته کندهار والي د نشه يي توکو د کښت مخنيوي، د زړونو روږدو کسانو د درملني، له کونډيانو او يتيمانو سره د مرستو کولو، د تېري اداري د چارواکو د امنيت د تأمينولو، د هر ډول فساد له منځه وړلو، شفافيت راوستلو، د پرمختيايي پروژو د تطبيق، د لويو او کوچنيو لارو د جوړښت، د ظلم او زورواکۍ د مخنيوي او ټولو خلکو ته د خپلو حقونو د ورکولو، د افغانۍ کرنسۍ د ارزښت د ډېرولو او په يو شمېر ۴مخ

ګډي علمي ناستي او فرهنګي مجلسونه ډېر اغېزمن تماميږي

د کندهار د اطلاعات او کلتور رئيس د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له مسئولينو سره وکتل.

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رئيس مولوي رحمت الله نيازي او د ياد علمي مرکز نورو غړو، د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني ته د مطالعې او کتاب لوستني فرهنګ دودولو په برخه کي د ګډو همکاريو ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، په دې او نورو ورته برخو کي د اطلاعات او فرهنګ رياست سره د ګډو فعاليتونو په برخه کي د همکارۍ بشپړ لېوالتيا لري.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې راغلو مسئولينو ته د ښه راغلاست تر څنګ له هغوی مننه وکړه او د دوی دغه نېک اقدام يې وستايه او ډاډ يې ورکړ، چي په دې برخه کي ۴مخ

په زړونو د زړه سوري کوچنيانو درملنه کېږي

په کندهار کي د ۱۵ زړو هغو کوچنيانو چي زړونه يې سوري دي، درملنه کېږي.

يادي څرګندوني په جنوب لوېديځه حوزه کي د سرې مياشتي مسئولينو د مې مياشتي د اتمي نېټې په لمانځغونډه کي چي په کندهار کي د «بشريت ژوندي ساتلو تر عنوان لاندي» ولمانځل سوه، وکړې.

په جنوب لوېديځه حوزه کي د سرې مياشتي عملياتي آمر محمد طيب عرفان وويل، دې ټولني تېر کال د زون په سطحه د ۷۰۰ هغو کوچنيانو درملنه کړې، چي زړونه يې سوري وو او تمه يې وښووله، چي سږ کال به د کندهار په يو خصوصي روغتون کي د پنځلسو زړو هغو کوچنيانو درملنه وکړي چي زړونه يې سوري دي.

د طيب په قول، له زړونو هغو بېوزلو او کډوالو کورنيو سره يې د خوراکي او غير خوراکي توکو مرستي کړې، چي مرستو ته يې اړتيا درلوده.

وروسته د کندهار د سرې مياشتي ټولني رئيس مولوي محب الله ايوب اخندزاده د رئيس الوزرا هغه پيغام ولوستی، چي د خيريه بنسټونو د کارکوونکو د خونديتوب ډاډ ورکړل سوی و او يادونه په کښې سوې ۴مخ

په کندهار کي له ۸۸ سېلاب ځپلو کورنيو سره مرسته وسوه

ځپلو کورنيو سره تر سره سوه.

د پېښو په وړاندي د مبارزې رئيس حاجي قاري عبدالسلام عمري ويلي، هري کورنۍ ته ۱۰۰ ۴مخ

په ياده مرسته کي چي درې قلمه خوراکي توکي شامل وو، د ولايت مقام په ځانګړې لارښوونه، د پېښو په وړاندي د مبارزې او چمتووالي رياست له لوري د کندهار ښار او بيلابيلو ولسواليو له ۵۷ سېلاب

۱۱۳ مهاجري کورنۍ خپل هيواد ته راستني سوې

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ ۷۸ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۴۵۰ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستانه سول.

د بل خبر له مخي د کندهار د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د جمعې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ ۳۵ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۱۱۴ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستانه سول.

له يادو کورنيو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا، نغدي مرسته سوې او هم مرستندويه مؤسسو ته د مرستي په هدف ورپېژندل سوي دي.

د ۲ تنو شهيدانو له کورنيو سره نغدي مرسته وسوه

د کندهار ولايت امنيې قوماندانۍ د دوو تنو شهيدانو له کورنيو سره ۴۳۵۰۰۰ افغانيو مرسته وکړه.

د امنيې قوماندانۍ وياند مولوي اسدالله جمشيد ويلي، د شهيدانو او معلولينو آمريت له لوري د دوو تنو شهيد سوو مجاهدينو له کورنيو سره د ۴۳۵۰۰۰ افغانيو مرسته وسوه، چي هري کورنۍ ته ۲۱۷۵۰۰ افغانۍ ورکړل سوې.

د يادوني وړ ده، چي مخکي هم د ياد آمريت له لوري د يو شمېر شهيدانو له کورنيو سره ورته مرسته تر سره سوې وه.

د دهلې بند پراختيايي پروګرام پلي کېدل: يوه جدي اړتيا ده!

بريالی "فيضي"

يو وخت د کندهار زراعت، د دهلې په بند زراعت و، د دهلې بند اوبه پر ارغنداب ولسوالۍ سربېره؛ ډنډ، ژړۍ، ميوند، پنجوايي او دامان ولسواليو ته هم بهېدلې او دغه اوبه خورا ډېري وې.

د سيمو مشرانو به ويل، وای سروکال به وياله ډکي بهېدلې. که په بل عبارت وواېو، پوره يوولس مياشتي به د دهلې بند اوبه درلودلې، چي د پورته ذکر سوو ولسواليو کرهنيزي مځکي يې خړوبولې، خو اوس چي مخ را اړوې، بيا او به خلاصي وي، آن يوازي د ارغنداب ولسوالۍ لا هم نه بسېږي.

همدا لامل دی چي د کندهار ښار ترڅنګ؛ د ياد ولايت په ټولو ولسواليو کي برمې وهل سوي او سروکال له دغو برمو تر مځکي لاندي اوبه را کښل کېږي او د زراعت له پاره استعمالېږي، چي دغه چاره به په آينده کي د لويو خطرونو سره مله وي.

د بي بي سي پښتو راډيو د خبريال مامون دراني د معلوماتو له مخي، د دهلې بند کاسه له ۵۰ تر ۶۰ سلنه پوري له رسوباتو ډکه ده، چي د پراختيايي پروګرام له پلي کولو پرته بله هيڅ لار نسته.

د تېر جمهوري دولت پر مهال نړۍوال بانک او آسيا پراختيايي بانک د دهلې بند د پراختيايي پروګرام له پاره بودجه ځانګړې کړې وه او دا ستره پروژه عملاً پلي کېدو ته نژدې وه، خو بيا وروسته معطله سوه.

په دې پروژه کي د دهلې بند د اوبو د ذخيرې کولو ظرفيت لوړول، د برېښنا توليد له پاره توربين لګول، د دهلې بند څخه کندهار ښار ته د څښاک اوبو رسولو پايپ او د اوبو لګولو د سيستم عصري کول شامل وو.

د افغانستان د اسلامي امارت دي يو وار بيا له نړۍوال بانک او آسيا پراختيايي بانک څخه د يادي پروژې د پلي کېدو غوښتنه وکړي، ترڅو دغه حياتي پروژه پلي سي او کندهار په راتلونکي کي د وچکالۍ او اقليمي بدلونونو له امله له ممکنه خطرونو وژغول سي.



د طلوع افغان خبري

چاپي رسنۍ؛ هیڅکله خپل ارزښت له لاسه نه ورکوي!

په اوسني وخت زیات هیوادوال ټلوېزیون، انټرنیټ، سمارټ موبایلونو او راډیو ګانو ته لاسرسی لري، هر ډول معلومات او اطلاعات په ډېر کم وخت او کم مصرف ځني ترلاسه کولای سي، په داسي حال کي چي د سلو کلونو هاخوا د پورته یادو سوو وسایلو څخه یې یو هم نه و.

په هغه وخت کي یوازي یو ډول رسنیو فعالیت درلودی، چي چاپي رسنۍ یې بللې. اخبارونه او مجلې به چاپېدلې او بیا به پر خلکو وېشل کېدلې، د معلوماتو او اطلاعاتو د رسوني همدا یوازني وسایل چاپي رسنۍ وې.

که څه هم نن ورځ د تېرو سلو کلونو په پرتله، هر څه بدل سوي، ټولنه عصري سوې، د رسنیو نوي ډولونه رامنځته سوي، خو بیا هم چاپي رسنیو خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی او نه به یې په آینده کي ورکړي.

ځیني خلک ښایي دا نظر ولري، چي اوس د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره هیڅ اړتیا نسته، چي د اخبار، مجلې یا کتاب پر چاپ پیسې مصرف سي، ممکن دا ووایي، موږ کولای سو، چي په خپل سمارټ موبایل کي په میلیونونو سافټ کتابونه ځای پر ځای کړو، نو بیا څه اړتیا لرو، چي چاپي کتابونه، اخبارونه یا مجلې رانیسو او پیسې پر مصرف کړو.

خو یوې خبري ته باید زموږ پاملرنه زیاته وي، هغه دا چي چاپي رسنۍ په تېر کي هم ارزښت درلودی او اوس هم د پخوا په شان ارزښت لري، دا ځکه چي چاپي رسنۍ داسي ځانګړني لري، چي هیڅ عصري رسنۍ یې نه لري، د مثال په توګه: کوم معلومات او اطلاعات چي په چاپي رسنیو کي خپرېږي، هغه تاریخ ته پاتېږي، اما پر عصري رسنیو دومره باور نه دی په کار، ځکه د یوې معمولي تېروتني له امله ښایي ټول معلومات او اطلاعات له منځه ولاړ سي.

بله مهمه ځانګړنه یې داده، د چاپي رسنیو څخه معلومات ترلاسه کول، تر ډېره ښایي په ذهن کي پاته سي. اما د راډیو، ټلوېزیون، سمارټ موبایلونو او انټرنیټ معلومات هماغسي په ذهن کي نه سي پاته کېدلای.

نو له دې امله ټولو هیوادوالو ته په کار ده، چي د چاپي رسنیو څخه ډېر کار واخیستل سي، ترڅو په علمي سطحه کي باوري او په زړه پوري معلومات او اطلاعات ترلاسه سي.

اداره

د امریکایي امپریالیزم نړۍ خوره څېره

حاجي عبدالله "ذاکري"
شپږمه برخه

امریکا او بریتانیا په لوی شمېر کلسټر او نور ډول – ډول بمونه او هم اټومي صنعت د اسرائیلو د وحشي رژیم په اختیار کي ورکړي دي، چي اوس ایران ته هم اخطارونه ورکوي او عملاً د ایران عالي رتبه پوځیان په سوریه او عراق کي د توغندیو په ذریعه په نښه کوي.

د اسرائیل رژیم د امریکا او بریتانیا داسي بدمعاشه او خودسره د ټولو نړۍوالو قوانینو څخه سرکښه او باغي رژیم دئ، چي د هغوی د ژاندارم په حیث په سیمه کي دنده تر سره کوي، دوی یې عام او تام حمایت کوي، د بایډن تر مشرۍ لاندي امریکا په عمل کي ثابته کړه، چي د جګړې، یرغل، تهاجم، اشغال او د هر ډول د وسلو د استعمال او د هر ډول جنګي تاکتیکونو او د خپل مخالفینو د ځپلو له پاره د هیچا او هیڅ قانون پیرو نه دي، دوی د خپلو جنګي بندیانو، جګړو او یرغلونو په ترڅ کي د نیول سوو عادي بندیانو له پاره هیڅ قانونه نه مني، متحده آیالاتو د ماینونو د تولید او استعمال د مخنیوي د (اوتاوا) تړون چي ۱۵۴ هیوادونو لاسلیک کړی، نه دی منلی. د امریکا متحده آیالاتو د جنګي جنایتونو یوه پخوانۍ او یوه اوسنۍ بېلګه دلته ذکر کوو:

له ویتنام سره د امریکا جګړه چي په ۱۹۷۵ مېلادي کال کي ختمه سوه، نږدې درې میلیونه ویتنامیان او ۵۸ زره امریکایان په دې جګړه کي ووژل سول، دا جګړه د امریکا په شرمېدونکې ماتې سره پای ته ورسېدله، چي لا تراوسه د امریکا په لسونو زرو پوځیان ورک دي؛ په عراق، سومالیا، لبنان، فلسطین، پښتني قبایلو او په امریکایي زندانونو کي د دوی جنایتونه دا اوس فی الحال روان دي.

د امریکا سرغړونه د نړۍوالو سازمانونو او قوانینو څخه:

د امریکا نړۍ خوره رژیم قصداً د نړۍوالو قوانینو څخه سرغړونه وي او د قوانینو اصلي اهمیت له منځه وړي، له هغو څخه د خپلو شومو هدفونو څخه کار اخلي، په کومو مواردو کي چي د دوی خپل نقشه او ستراتیژي ایجابوي، د ملګرو ملتونو او نورو نړۍوالو سازمانونو او قوانینو څخه د پلمې او ملاتړ په توګه کار اخلي او چي د دوی نقشه او ستراتیژي یې نه ایجابوي، بیا نه د ملګرو ملتونو فیصلې ته اړتیا لري او نه هم د نړۍوالو قوانینو او سازمانونو څخه پروا لري، په ډېري سپین سترګۍ او بې شرمۍ سره سرغړونه ځني کوي او هیڅ اهمیت هم نه ورکوي، څومره چي امریکا نړۍوال قوانین او سازمانونه سپک کړي دي، په ټوله نړۍ کي چا نه دي سپک کړي، چي څو بېلګي یې دلته ذکر کوو:

د اسرائیلو طاغوتي رژیم حمایت:

د اسرائیلو طاغوتي رژیم چي د امنیت شورا یوه فیصله یې هم نه ده منلې او نړۍوالو سازمانونو او قوانینو ته یې هیڅ اهمیت نه دی ورکړی، دا هر څه یې د امریکا په مستقیم حمایت او ملاتړ کړي دي، ځکه چي د امریکا د اسرائیلو خلاف هره فیصله یې ویټو کړې ده، اسرائیل یې د هیڅ قانون په منلو نه دي ملزم کړي، د اسرائیلو بقا دوی ته تضمین کړې ده او د هغوی هر اړخیز حمایت دوی کوي، نو همدا لامل دی چي یهودي صیهوني، د یو سرکښ باغي او طاغوتي رژیم په توګه عمل کوي، که اسرائیلو په لبنان تجاوز کړی دئ، که فلسطینان قتلوي، هر ډول وحشیانه سلوک ور سره کوي، که یې د لبنان، فلسطین، سوریې او مصر خاوره لاندي کړې وه او اوس یې هم بیت المقدس او نوره فلسطیني خاوره، د سوریې یوه برخه په اشغال کي ده، له لویه سره خو په دې سیمه کي د دوی وجود هیڅ قانوني حیثیت نه لري.

د عراق او سوریې پر تأسیساتو یې بمبارۍ وکړې، پر ایران د بمباریو اخطار ورکوي.

خو ملګري ملتونه او د امنیت شورا اسرائیلو ته د ملامتۍ ګوته هم نه سي نیولای، نن – سبا چي د امریکا تر مشرۍ لاندي د اسلام او مسلمانانو د ځپلو له پاره د ضد تروریزم په نامه جګړه روانه ده، هر څوک پوهېږي چي امریکا او انګرېز خپله د تروریزم حامیان دي.

نور بیا...

د یهودانو دسیسې

لیکوال: محمد یحیی خان
ژباړه: سمیع الله "دراني"
پنځه پنځوسمه برخه

دا په یاد ولرئ چي آزادي بې ضرره هم کېدلای سي، عامه کامیابي بې له قصانه په ملکي ژوند کي خپل ځای نیولای سي، په دې شرط چي د آزادۍ بنیاد دوه ډوله وي:

۱ – یو پر الله (ج) ایمان لرل.

۲ – انساني اخوت لرل.

دغه اخوت د تخلیقي اصولو باید منافي نه وي او له فلسفي مساوات سره باید تعلق و نه لري، ځکه فطرتي اصولِ تخلیق په انسانانو کي د درجې او محکومیت تصورات لري.

د دې عقیدې له امله عوام د پاچهۍ په خاطر پر مذهبي ډلو سره تقسیمېږي او تر دې درجه بندۍ لاندي د الله (ج) رضا ته سر ټیټول، د روحاني مشرانو په رهنمایۍ سره د قناعت، عاجزۍ او مطمئن ژوند تېرول دي.

زموږ د مقصد د تکمیل له پاره دا لازمه ده چي د ټولو مذهبونو اهمیت او د غیر یهودو افرادو د ذهنونو څخه باید د الوهیت او روحانیت تصورات ختم کړو او دوی په مادي ضروریات او حسابي اعدادو کي شکېل کړو.

غیر یهودیان باید په صنعت او تجارت کي داسي شکېل کړل سي چي دوی د فکر له پاره لا وخت و نه لري، دغه ډول ټول قومونه باید د زرو او منفعت په تعاقب پسي داسي وځغلول سي چي خپل مشترک دښمن ته یې لا پام و نه سي، د دې له پاره د دوی له صنعتونو سره د چل – چم سودا کول په کار دي، کوم شیان چي دوی د خپلو مځکو څخه د صنعتو له لاري حاصلوي، هغه دوی دستي د یو مخیزه سودا له پاره بازار ته وړاندي کوي، هغه په مختلفو لاسونو کي سره اوړي، زموږ تر قوم پوري به را ورسېږي، په دې دوران کي د لوړ حیثیت، لوړ منصب په تلاښ او د معاشي ژوند په جټکو سره بې ضمیره او بې رحمه فرقې پیدا کېږي، دغه فرقې د اصولي سیاسیت، محکم معاشي نظام څخه سخت نفرت لري، د دوی بس یو خدای، یو رهنما او یو مرشد وي، هغه د دوی مفاد پرستي او بل د هیڅ شي سره کار نه وي، مذهب او مسلک یې همدغه وي، ځکه خوشحالي او هوساینه ټولي په دې ذریعه سره دوی ته حاصلېږي او بیا دغه وخت هم را روان دی چي یوه خواره کښه طبقه به د دې لوړي طبقې پر خلاف ږغ پورته کوي، په دې کښته طبقو کي د پیسو محبت کم وي، بغض او عناد یې ډېروي، بیا به دغه خلک زموږ د حریفانو په مقابله کي ولاړ وي، په دې خلکو کي د لوی فکر کسان، فیلسوفان او پوهان پیدا کېږي.

آمریت او نوې ترقي:

په حکومت کي مرکزیت، د یهودو پر اقتدار د قبضو طریقې، د نورو مملکتونو په منځ کي د نه اتفاق له امله د یهودو مملکت، زر، د مملکتونو د ماشینرۍ ګرځلاو، د تنقید اهمیت، داسي اداري چي صرف یې خلک وویني، په خطا وځي، د لاري د سمولو طریقې، شخصي رأیو ته ماته ورکول، د لوی سلطنت تصور. داسي خلکو ته د څرنګه حکومت طریقه باید ور وښوول سي چي د دوی په رګونو کي بدو عنوانونو او بد اخلاقۍ هستوګنه کړې وي او کوم چي د مال او زر له پاره هر ډول چم بازي جائزه ګڼي او په دوی کي دا آزاد او بې لاریتوب یو عام عادت ګرځېدلی وي، یو نفر هم په رضا اخلاقي اقدارو ته تیار نه وي او د لوړو اقدارو د نفاذ له پاره تعزیري ضابطانو او بې رحمو قوانینو ته اړتیا هم وي، د دې ډول قومونو له پاره بې له استبدادي طریقو کومه لاره ده چي په دوی نظام ومنل سي؟

نور بیا...

پیر محمد کاکړ او د هغه سبک پېژندنه

راټولونه: عبدالقاهر

پیر محمد په خټه کاکړ دئ، د کاکړو اصلي ځای ږوب دئ چي د ډیورنډ فرضي کرښي ها خوا ته موقعیت لري.

د پیر محمد کاکړ ډېر معلومات موږ ته په لاس نه دي راغلي، خو د احمدشاه بابا معاصر و او د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلېمان استاد و.

پیر محمد کاکړ د (معرفة الافغاني) په نامه د پښتو ژبي د زده کړي یو کتاب لیکلی چي په خپل ډول کي د پښتو لومړنی ګرامر دئ او د پښتو نثر ښې نمونې هم په کښې خوندي دي.

د پیر محمد کاکړ سبک: سبک یې په سادګۍ، سلاست او متانت کي د رحمان بابا او خوشحال خان مکتب ته ورته دئ او په مضمون کي نزاکت او ادیبانه تلازماتو او استعارو کي د حمید او شیدا د مکتب ښېګني لري، ځکه د ده ویناوي خورا خوږې او د خونده ډکي دي.

د هغه ادبي مکتب په پښتو ادب کي یو غوره سبک منځ ته راوړی دئ چي تر ده مخکي نه و، د خپل وخت لوی ادیب او شاعر و؛ د کلام سلاست، بلاغت او متانت یې د نورو ادیبانو او شاعرانو څخه لوړ دئ. په شعر او ادب کي د پیر محمد کاکړ یوازي یو قلمي دېوان زموږ لاس ته راغلی، ویناوي یې خوږې او خوندوري دي، دېوان یې (۵۰۰۰) بیتونو ته رسېږي او په (۱۱۹۶ هـ ق) کال کي د دېوان د لیکلو څخه فارغ سوی.

لکه چي وایي:

زر سل شپږ نوي کلونه
د هجرت تېر سوي وو نه
ما آشنا د عشق دېوان کړ
په پښتو مې ښه بیان کړ
په دې طمع چي یادګار سي
بیا منشور په هر دیار سي

غزل

شنه خالونه چي د پاسه پر جبین ږدي
دا زما پر زړه داغونه آتشین ږدي
د عشق اور مې ویلوي د زړګي شمع
بې هوده مې پر موم نقش د نګین ږدي
شین توتي کړ محروم له شکر لبو
و مګس ته څو پیاله د انګبین ږدي
ما دي خیال لره فرش کړي تور لېمه دي
ته بې نیازه قدم ولې پر زمین ږدې
اوس نقاب له مخه واخله په خندا سه
ترڅو غم مې پر خسته خاطر حزین ږدي
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه
پر راحت چي سر له نازه پر بالین ږدي
آزرده به دي له جوره "پیر محمد" سي
چي اغیار سره بنا د آن و این ږدي

د شیطان لښکر

د خوارجو نوې څېره (داعش)

(۴۷) برخه

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

ابو ذر العراقي په ویډیو کې بغدادي خطاب کوي او ورته وايي: اې بغدادي! له الله (ج) څخه وبېرېږه، د قیامت په ورځ به عبدالکریم بن باز ابو مصطفی او ابوبکر السبعوي د وینو به څه جواب وايې؟ هغه خو معاونین و، چې ستا په حکم ووژل سوا و جرم یې یوازې دا و، ستا سره یې بیعت نه کاوه، دوی درو سرو په اسلامي دولت کې لویې چوکۍ لرلې.

ابو ذر العراقي مخته وايي، اې داعشیانو چې کله تاسو زما دا ویډیو ووینئ، نو ما ته به هم مرتد ووایاست. د الله په ذات قسم، چې زموږ دیم.

له صلیبانو او راوافضو سره مې جهاد کړی دی، د عراق په هر محاذ کې جنګېدلی یم، زما په اړه خو دا هر څه تاسو ته هم معلوم دي. ابوذر العراقي دا بیان د یوې ویډیو په شکل کې خپور کړی و.

د ابو معصب التونسي شاهدي:

ابو و معصب التونسي: د تونس اوسېدونکی دی، دی له اسلامي دولت سره د یو ځای کېدو له پاره لومړی لیبیا ته او بیا له هغه ځایه شام ته ولاړی.

دی خپله کیسه داسي بیانو: شام ته تر راتګ وروسته په ادلب کې د داعش په مرکز کې اوسېدلم او لس ورځې راته د داعش د شرعي مسئولینو (نظریاتي استادانو) له خوا فکري درسونه راکړل سول، لس ورځې وروسته د داعش خارجه مسئول له موږ څخه پوښتنه وکړه، تاسو به څه کوئ؟ ما ورته وویل: فدایي حمله کول غواړم.

موږ له ابو علي الانباري سره وکتل او هغه موږ ته وویل: تاسو به د نور الدین زنګي پر مرتدینو حمله کوئ! موږ ته معلومه نه وه چې د نور الدین زنګي خلک څوک دي؟ له چا سره اړیکي لري؟ او دا نو کوم خلک کاروي؟

موږ ته دومره هم معلومه نه وه، چې داعش او القاعده په فکري لحاظ له یو او بل څخه بېل دي، تراوسه پوري موږ دا ګڼله چې دواړه یو دي او مجاهدین دي. موږ د بصراتون په سیمه کې د داعش د فدایي حملو د ټرېنینګ مرکز ته ولاړو.

هلته څو ورځې روزنه راکول سوه، تر هغه وروسته موږ یو نامعلوم ځای ته یوووړل سو. د دې پوښتني حق مو نه درلودی، چې موږ چیري روان یو. که به چا دا پوښتنه وکړه، هغه ته به د جاسوس په سترګه کتل کېدل.

موږ ته یوازې دومره وویل سول، چې ستاسو حمله به د (پي. کي. کي) پر مرتدینو وي. کله چې موږ خپل هدف ته ورسېدلو، مرکز ته ننوتو او حمله مو پیل کړه، نو موږ د جبهة النصرة بیرغ رپاند ولیدی، تر څه ټکانو وروسته موږ ته په ډاګه سوه، چې موږ د (پي. کي. کي) پر مرتدینو حمله نه، بلکې د جبهة النصرة مجاهدین مو تر برید لاندي نیولي دي. موږ جنګ ودراوه او امن مو ځني وغوښتی، ورته و مو ویل: غواړو ستاسو له شرعي مسئول سره خبري وکړو، د هغوی د شرعي مسئول سره تر خبرو وروسته موږ خپله ټوله وسله او بارودي واسکټونه هغوی ته وسپارل.

ابو معصب التونسي وايي: په الله قسم! د داعش رسنۍ چې څه خپروي، له حقیقت سره له یو مخې اړخ نه لګوي، موږ د دوی له رسنیو په دې پوه سوي یو چې ګواکې دلته اسلامي خلافت دی، خو حقیقت د دې خلاف و، موږ د جبهة النصرة له ښه سلوک څخه ډېر شرمنده یو چې موږ د دوی په وژلو پسې راغلي وو او دوی موږ د ورونو په سترګه وکتل.

د یو مصري سپین ږیري شاهدي:

ابو الیسر محمود او عبد الجبار په مصر کې د اسکندریې ولایت اوسېدونکی دی، داعش دا دوه اویا کلن سپین ږیری په جبهة النصرة باندي د فدایي موټر بم حملې له پاره لېږلی وو، تر څو دوی خپله فدایي حمله پر هغوی تر سره کړي، خو تر حملې مخکې د جبهة النصرة مجاهدینو له موټر سره ژوندی ونیولو.

ابو الیسر خپله کیسه داسي بیانوي: په ۲۰۱۳ م کال کې د ترکیې له لاري شام ته راغلم، له مجاهدینو سره تر یو ځای کېدو وړاندي په جبل الاکراة کې وم، هلته مې اووه میاشتي تېري کړې، ابو ایوب التونسي ماته د فدایي حملې کولو وویل: ما د الله (ج) د رضا له پاره په ډېر اخلاص سره د ده خبره په دې شرط ومنله، چې د بشار پر پوځ باندي د فدایي حملې ترتیب راته برابر کړي. داعش ماته دوکه راکړه او پر مجاهدینو یې د فدایي حملې له پاره را ولېږلم، ابو الیسر د مجاهدینو د غوره اخلاقو څخه زیات خوښ دئ.

نور بیا...

د ماشومانو لوبې

رحمت الله "حیدري"

د لوبو په وخت کې بېلابېل کارونه دي چې ځوانان یې د طبیعت د سمېدو له پاره تر سره کوي.

لوبې پر دوه ډوله دي:

عامي او خاصي

–عامي هغه لوبې دي چې د ځوان نسل له لوري تر سره سي.

–خاصي هغه لوبې دي، چې یوازې یې ځیني محدود کسان کوي.

لوبې په عمومي توګه د لږو او ډېرو کسانو له خوا کېږي.

لږ: یوازې یې دوه–درې کسان کوي.

ډېر: په زیاتو کسانو تر سره کېږي.

فولکلور پېژندنه:

د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې د لوبو رول:

د ماشومتوب دورې یوه له ځانګړتیاوو څخه لوبې کول دي، په دې دوره کې لوبې د فعالیت طبیعي تګلاره ده، د ماشوم لوبې په بېلابېلو عمرونو کې خاصي ځانګړتیاوې لري، په پیل کې د هغه لوبې له شیانو سره وي او وروسته له انسانانو سره.

تر درې–څلور کلنۍ وروسته په تدریج سره ډله ییزو او ټولنیزو لوبو ته مخه کوي، په دې لوبو کې ماشوم د ډله ییزو لوبو اصولو او مقرراتو ته غاړه ږدي او له نورو سره همکاري کوي، په دې وخت کې له نورو سره چلند تمرینوي، د ټولنیز ژوند له اصولو، قواعدو او دغه راز په تدریج د علمي انضباط له مراعاتولو سره آشنا کېږي او دا د هغه له ټولنیزي او اخلاقي ودې سره مرسته کوي.

په هر حال د ماشومانو لوبې د هنداري حکم لري، چې د ماشوم روحیات، استعدادونه او اروایي برخې ښکاره کوي او د ماشوم په پېژندګلوي کې باید له هغې څخه ګټه واخلو. ماشومان نه سي کولای، هغه څه چې ویني او یا یې هم په اړه فکر کوي، توضیحات ورکړي. د ماشومانو لوبې له موږ سره مرسته کوي، تر څو په ښه توګه د هغوی په ژبه پوه سو، که چیري وکولای سو چې د ماشومانو لوبې درک کړو، نو کولای سو چې د هغوی په فکرونو او عواطفو پوه سو.

د لوبو ګټې:

لوبې ښوونیز رول لري او کولای سي چې له ماشوم سره مرسته وکړي، تر څو بریالی سي، هغه کارونه چې په عادي شرایطو کې د هغه له پاره په زړه پوري نه دي، د لوبو له لاري یې زده کړي.

لوبې ماشوم ته دا فرصت ورکوي، چې تر بدني او رواني ستړیاوو وروسته، د ماشوم اراده پیاوړې کوي او هغه دې ته اړ کوي، چې لوبه په بریالۍ توګه پای ته ورسوي او خپلې موخې ته د رسېدلو په لاره کې پایښت وکړي.

لوبې په ماشوم کې هوښیارتیا، فکر، اراده او بېلابېل استعدادونه روزي او د هغه د روح د خوشاله کېدو سبب ګرځي. د لوبو یوه ځانګړتیا د روحي ژوندي ساتل او تازه کول دي، ځکه چې لوبه له خوشحالوونکي فعالیت څخه عبارت دی او د ماشوم په فکري روغتیا کې مثبت اغېز لري.

ښوونیزي لوبې کومې دي؟ ننني ښوونیزي لوبې هغو لوبو ته ویل کېږي، چې د هغو له لاري په خاص ډول تمرین سوي روحي وړتیاوو ته پراختیا پیدا کړي، په دې ډول ټولو لوبو کې له کوم فشار پرته په آزاد ډول، په لېوالتیا، له نقشې او هدف سره نوي زده سوي شیان تمرینېږي او پراختیا پیدا کوي، په همدې دلیل ماشومان هم د خپلو لوبو د وسایلو په منځ کې باید د دې ډول ښوونیزو لوبو د څو ډولونو خاوندان و اوسي.

د ښوونیزو لوبو ډولونه:

تر ډېره دوړکتوني ماشومانو په صنفونو کې څلور ډوله لوبې معمول دي:

لاسي لوبه، بدني لوبه، نمایشي لوبه او بوختوونکې لوبه.

لاسي لوبه:

په دې لوبه کې ماشومان له کوچنیو وسایلو؛ لکه: د اندازه ګیرۍ له لرګیو او د مېخونو له لرګیني ټولګې سره سر و کار لري. لاسي لوبې تر ډېره حده ځان شموله دي، یعني له نورو لوبو سره د هغو اړیکي ته اړتیا نسته، کله چې اړین وسایل د ماشوم په واک کې ورکړل سي، نو مستقیماً د پام وړ موخې ته رسېږي.

نور بیا...

د ښه او کامیاب ژوند اصول

واحدالله "یاد"

تاسو خپل ژوند په ځانګړې توګه د ځوانۍ دوره چې ستاسو راتلونکې کامیابي پوري تړلې ده، څنګه تېرېږي او کوم اصول مو ورته ټاکلي دي؟

اروا پوهان وايي، د ځوانۍ دوره یوه داسي دوره ده چې د راتلونکي ژوند له پاره لاره هواروي، ترڅو د پرمختګ په لاره کې ګړندي و اوسئ او د خپل موجوده حالت څخه ووځئ، خپل ځان چلینجول مو، د ښه او کامیاب ژوند لامل کېږي، پرمختګ او بدلون راوستل اسانه نه وي، خو د رامنځته کولو له پاره یې هر ډول کوښښ ګټور بلل کېږي، شاید ډېر مشکلات ولري، خو ځیني شیان عادتونه او بدلونونه کولای سي، د یو ښه ژوند خاوندان مو کړي.

۱– پر ځان باور ولرئ: هیلي مو کابو کړئ! انسان نیمګړی دی، نه سي کولای هر څه په یوازې توګه تر سره کړي، تاسو باید حقیقت درک کړئ، پر ځان باور ولرئ، د ناکامۍ څخه مه بېرېږئ، خپلي غلطۍ قبولي کړئ، هدف وټاکئ، په لاسته راوړنو کې د خوشحالۍ احساس وکړئ.

۲– ساده ژوند وکړئ: په ورځني ژوند کې ډېر کارونه وخت ته ضرورت لري، لکه: د ماشومانو هستوګنځی برابرول، د کور او دفتر کارونه، له ملګرو او دوستانو سره لیدنه–کتنه، ماشومان تر ښوونځي رسول.

د ساده ژوند په اختیارولو سره کولای سو په ښه توګه د ژوند چاري مخته یوسو.

۳– معیار ټاکل: په ژوند کې هر څه چې کوو، هغه باید د یو معیار پر اساس مخته ولاړ سي.

۴– مخ په وړاندي ولاړ سئ: ژوند سفر دی، منزل نه دی؛ باید هره ورځ د خپلي بقا له پاره کار وکړو، ژوند د ناکامۍ او کامیابۍ لرونکی دی، خو موږ باید لاس په کار سو، تر څو یو کامیاب ژوند ولرو.

۵– د ملګرو خیال وساتئ: که تاسو له خپلو ملګرو سره د خپل فکر مطابق، چلند کوئ، نو له ډېرو مشکلاتو سره به مخامخ سئ، د دې پر ځای داسي رویه اختیار کړئ، چې ملګري مو تمه در څخه لري.

۶– نوښت وکړئ: هغه کامیاب ګڼل کېږي چې له ژوند سره د لچسپي لري، پر یو حالت نه پاته کېږي، د نوو شیانو یادول مو، شخصیت ښکلی کوي.

غیبت کول؛ لویه ګناه ده!

عیسی ګل "حمیدي"

د غیبت تعریف: د یو چا په غیاب (په نه موجودیت کې) په هغه پسې خبري کول، د هغه منفي او غلطي نقطو بیانولو ته غیبت وايي.

د غیبت کولو تاوانونه:

۱– د غیبت کوونکي شخص ټول نېک عملونه مقابل شخص ته چې دی یې غیبت کوي، ورانتقالېږي. دی چې هر څومره نېک عملونه تر سره کوي، ټول ښه عملونه یې له منځه ځي.

۲– په اسلام کې د غیبت کولو څخه سخته منع راغلې او فرمایل سوي دي:

"الغیبة اشد من الزنا"

ژباړه: غیبت تر زنا بدتر دئ.

۳– په غیبت کولو سره الله (ج) ناراضه کېږي.

۴– په غیبت کولو سره د انسانانو ترمنځ، اړیکي خرابېږي او خپګان رامنځته کېږي.

۵– په غیبت کولو سره د انسان عزت کمېږي او څوک بیا ناسته–پاسته نه ور سره کوي.

یو عالم ته یو چا وویل: چې فلاني شخص ستاسو په اړوند غلطي خبري کولې. دغه عالم ولاړی بازار ته او هلته یې قیمتي توکي رانیول او هغه شخص ته یې ورکړې او ورته و یې ویل: هغه شخص ته یې ور وړه چې زما په اړه یې غیبت کاوه او مننه هم ځني وکړه

۴مخ

شعر او آدب

د طلوع زریني وړانګې

غزل

بسم الله "غرنی"

آشنایه په ټول ژوند کې له پلندره دي خدای ساته!
ملایي کې د دهزک ملا جلندره دي خدای ساته!

په خوله چې قلندر وي او عمل یې د شیطان وي
د داسي خطرناکه قلندره دي خدای ساته!

د څو کسو ترمنځ چغلګري چې تل مدام کړي
بیداره او چالاکه چغلګره دي خدای ساته!

اخلاق ؤ انسانیت او شرافت څخه چې خلاص وي
بې شرمه بد اخلاقه لنډغره دي خدای ساته!

پر قول او وعده چې نه درېږي په هیڅ وخت کې
یاري او آشنایي کې حمله ګره دي خدای ساته!

لیدلي–اورېدلي "غرنی" دي دغه ټوله
سر بېره پر دې ټولو کیسبره دي خدای ساته!

غزل

شهکار

خواږه ملګري چې پردي سي سړی هک حیران سي
چې تر مطلب اندېوالي سي سړی هک حیران سي

یو خوا غربت بل د جانان دا دومره لوی فرمایش
بل د دوبۍ مسافري سي سړی هک حیران سي

د نورو خلکو لېوني ټوله هوښیار سي ښه سي
زموږ هوښیار ټول لېوني سي سړی هک حیران سي

همزولي ځي په منظره؛ ته مریضي بانه کړې!
چې دومره ډېره غریبي سي سړی هک حیران سي

لکه د ژمي مازدیګر څومره محدوده وخت وي
داسي ژر ختمه چې ځواني سي سړی هک حیران سي

غزل

حیات خان "همت"

ذرې ذرې مې ځان کړئ ما په دا لکه غبار
یاران مې تېرواي سي اوس هوسا لکه غبار

پیدا دي کړه آخر آخر زما د ضعف نقطه
د حسن په وړانګو دي کړم رسوا لکه غبار

بیرته به راټک وهلم هر سړي پر مځکه
د چا چې به مې ونیوله شا لکه غبار

په دې کمزوري تن به د آسمان مخ کړو ور خړ
که چیري موږ یو ځای سو په رښتیا لکه غبار

موږ یو د بل په زړه کې؛ ته ور ېښمو باندي پروت!
ما شپه وکړه پر کاڼي د صحرا لکه غبار

چیري به "همت" وي په بلا باندي اوښتی؟
د کوم ښکلي پر مخ به پروت وي بیا لکه غبار؟

Tolo E Afghan
Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چې د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کې ځانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمریز کال په آخرکې د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼې یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنۍ بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندې کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسئول مدیر: ـــــــ بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: ـــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډیزاین: ـــــــ نصیر احمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: ـــــــ علامه حبیبي واټ ـ اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: ـــــــ Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | ISSue: 8 | Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

په اجاره یې ورکوي

د کندهار ښاروالي ملکیت د پنځمي ناحیې مربوط، د زاړه ګمرک په ساحه کي، د وسایطو پارکینګ، د شرطپاڼي مطابق د یوه کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لاري په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چي غواړي په داوطلبي کي ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د غویي میاشتي د نولسمي نېټي څخه بیا د همدې میاشتي تر پنځه ویشتمي نېټې پوري د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو او قراردادونو آمریت ته وسپاري. شرطپاڼه کتلای سي، د اجارې د سرجمع څخه شل فیصده تضمین نغداً اخیستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د غویي میاشتي پر شپږویشتمه نېټه د چهار شنبې په ورځ د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کي صورت نیسي او د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر لاندنیو شمېرو اړیکي ونیسي:
0704647641 – 0704420226

***

د کندهار ښاروالي ملکیت د لسمي ناحیې مربوط، د شرقي لین په اډه کي درېیم نمبر کوچنی هوټل د شرطپاڼي مطابق د یوه کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لاري په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چي غواړي په داوطلبي کي ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د غویي میاشتي د اتلسمي نېټي څخه بیا د همدې میاشتي تر څلور ویشتمي نېټې پوري د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو او قراردادونو آمریت ته وسپاري. شرطپاڼه کتلای سي، د اجارې د سرجمع څخه شل فیصده تضمین نغداً اخیستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د غویي میاشتي پر پنځه ویشتمه نېټه د سه شنبې په ورځ د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کي صورت نیسي.
د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر لاندنیو شمېرو اړیکي ونیسي: 0704420226 – 0704647641

زیاتوونکي غواړي

د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

یو باب کانټینري دفتر چي د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري. بشیر احمد د محمدزي زوی یې د میاشتي په مبلغ ۴۶۰۰/۰ – افغانۍ په کرایه غواړي. هر هغه څوک چي د یاد پرچون کانټینر د کرایې د زیاتېدو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د ثور میاشتي د دوه ویشتمي نېټې څخه بیا د یادي میاشتي تر نهه ویشتمي نېټې د شنبې تر ورځې (۷) ورځو پوري دي خپل غوښتنلیکونه د مستوفیت ریاست د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً او یاده د مزایدې داوطلبي د ثور میاشتي پر دېرشمه نېټه د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي.

***

د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

یو باب د پرچون کانټینري چي د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري. قریب الله د سید حسن زوی یې د میاشتي په مبلغ ۲۴۰۰/۰ – افغانۍ په کرایه غواړي. هر هغه څوک چي د یاد پرچون کانټینر د کرایې د زیاتېدو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د ثور میاشتي د دوه ویشتمي نېټې څخه بیا د یادي میاشتي تر نهه ویشتمي نېټې د شنبې تر ورځې (۷) ورځو پوري دي خپل غوښتنلیکونه د مستوفیت ریاست د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً او یاده د مزایدې داوطلبي د ثور میاشتي پر دېرشمه نېټه د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي.

دورکي اعلان

څه وخت وړاندي د عینو مېني د ملکیت یو سند چي د اسدالله د حاجي محمد انور د زوی په نامه دی، د ملکیت نمبر یې (56)، موقعیت یې (B2-4) او د فایل نمبر یې (2119) دی، ورک سوی. هر چا که پیداکړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او یا دې پر دې شمېرو اړیکه ونیسي: 0700738000 - 0700305088

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د مرینا "حکیمي" د تاج ګل لور او د حاجي زکریا د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي د ټیلیفون په دې شمېره دې تماس ونیسي: 0700306912

اعتبار نه لري

سیلور مهاراجا لمیټیډ د (86359) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس یې حزب الله افغان د عبدالله زوی او مرستیال یې نقیب الله مسافر د حاجي عبدالله زوی دئ، ورک سوی. هر چا که پیداکړی وي، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

حاجي عبدالرازق خوشحال ربګرېشن د (D-04-1558) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس یې علاؤالدین د محمد نبي زوی دئ، ورک سوی. د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

شاهي ابدال ساختماني شرکت د (D-27818) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس یې عبدالنافع عزیزي د محمد کریم زوی او مرستیال یې فضل الرحیم پاچا د عبدالقدوس زوی دئ، ورک سوی. د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

داؤد میرویس ساختماني شرکت د (D-28217) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس یې سخي داد د الله داد زوی او مرستیال یې علي احمد د سعدالله زوی دئ. ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

(۱) مخ پاته: الهام محکموف: د...

ترانسپورتي او ترانزیتي خدمات نور هم وده وکړي، ترانسپورتي او ترانزیتي تعرفې را کمې کړو.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د ازبکستان له نېکي ارادې او د اقتصادي سیاسي اړیکو پیاوړتیا په برخه کي د ازبکستان د جمهور رئیس او ټول ټطم د جدیت څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، افغان سوداګرو او د ترانسپورتي برخي کارکوونکو ته د ویزو د ورکړي تسهیل یو ښه پر مختګ دی او په کار ده چي د الړۍ روغتیایي، تعلیمي برخي او بالاخره عامو افغانانو له پاره د سیاحت ویزو برخي ته هم وغځېږي.

عصمت الله ایرګشوف د وروستیو سېلابونو او افغانانو ته د اوښتي زیان له امله د تسلیت مراتبو په وړاندي کولو سره وویل، د یو مسلمان وررو او ګاونډي په صفت په دغه برخه کي افغانانو او اسلامي امارت هر ډول لاسنیوي ته چمتو یو او زیاته یې کړه، ازبکستان د اسلامي امارت د اړغ بدرګه کوي چي افغانستان، ازبکستان او نور ګاونډي او د سیمي هیوادونه باید اقتصادي رفاه ته د رسېدو په موخه اقتصادي موضوعات د سیاسي قرباني نه کړي او څرګنده یې کړه، افغان موټرچلوونکو او سوداګرو ته د ویزو وېش لړۍ یې پیل کړې او اوس دوی ته په کثیر المدت ویزو او هم په تعلیمي، روغتیایي او بالاخره سیاحتي ویزو لړۍ هم پیل کړي.

هغه زیاته کړه، له افغانستانه د څه باندي یو میلیون ټن ډبرو سکرو خریدارۍ له پاره یې په نږدې راتلونکي کي تخنیکي ټطم کابل ته راتلونکی دی او په مزار شریف کي د امام البخاري مدرسې ساختماني چارو پیلېدو له پاره به هم انجینران ډېر ژر افغانستان ته راسي.

هغه چمتووالی وښووی چي ازبکستان آماده دی، د افغانستان اطلاعات او فرهنګ وزارت سره په ګډه، د تاریخي اماکنو او زیارتونو په تعمیر او ترمیم کي په ګډه کار وکړي.

(۱) مخ پاته: کندهار والي: د افغانانو...

نورو برخو کي د اسلامي امارت د لاسته راوړنو یادونه وکړه او له راغلي پلاوي څخه یې غوښتنه وکړه، ترڅو په راتلونکي کي خپله بودجه د وچکالۍ ځپلو او سېلاب ځپلو سره، د مرستي تر څنګ پر پرمختیایي پروژو مصرف کړي.

کندهار والي زیاته کړه، د ملګرو ملتونو سازمان د نړۍ د عدالت له پاره رامنځته سوی؛ نو د افغانانو ریښتینی انځور دي له نړۍ والو سره شریک کړي.

(۱) مخ پاته: ګډې علمي ناستي او...

ګډ فعالیتونه به د مطالعې او کتاب لوستني په برخه کي ډېر ښه تمام سي او یادونه یې وکړه، چي ګډې علمي ناستي، فرهنګي مجلسونه او په عموم کي د هر ډول علمي او فرهنګي مناسباتو ګډ تر سره کول به، ډېر اغېزمن تمام سي.

(۱) مخ پاته: په زرونو زړه سوري...

وه، چي اسلامي امارت د خیر – ښېګڼي مؤسسو امنیت خوندي کړی دئ.

د بل خبر له مخي په جنوب لوېدیځه حوزه کي د سرې میاشتي عملیاتي آمر محمد طیب عرفان ویلي، په کندهار کي د سرې میاشتي ټولني اړوند مرکز کي د ۱۲۷۰ تنو رواني ناروغانو درملنه روانه ده، چي له جملې یې ۲۹۰ تنه روغ سوي دي او تېر کال هم د سرې میاشتي ټولني د زون په سطحه نږدې سل میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي او هم یې د کندهار ولایت په یو شمېر ولسوالیو کي د ۴۴۱۰ کډوالو، بې سرپرستو او بېوزلو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته کړې وه.

(۱) مخ پاته: په کندهار کي له ۸۸ ...

کېلو غنم، ۵۰ کېلو وریجي او پنځه کېلو دال ورکول سول.

د عمري په قول، په راتلونکي کي به هم د دې ریاست له لوري له سېلاب ځپلو او وچکالۍ ځپلو کورنیو سره ورته مرستي وسي.

د بل خبر له مخي په کندهار کي د ۲۰۵ البدر قول اردو له خوا د ۳۱ سېلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وسوه.

د یاد قول اردو د مسئولینو په وینا، له ۳۱ هغو کورنیو سره یې داووه قلمه خوراکي توکو مرسته کړې، چي وروستیو سېلابونو زیانونه ورته اړولي وو.

(۱) مخ پاته: د احمد شاهي حوض له...

ترمیماتي چاري یې په تېر ۱۴۰۲ ل کال کي د اطلاعات او فرهنګ وزارت له لوري د ۷ میلیونه، ۱۴۰ زره او ۲۵۰ افغانیو په لګښت پیل سوي او اوس مهال یې شاوخوا ۹۵ سلنه چاري بشپړي سوي دي.

د ۳ مخ پاته: غیبت کول؛ لویه...

چي خپل نېک عملونه یې وړیا ماته ډالۍ کړل.

غیبت کوونکی انسان چي کله غیبت کوي، نو داسي مثال لري، لکه د خپل مړه ورور غوښي چي خوري.

آیا د یو چا دا خوښه ده، چي ورور یې مړ او دی یې بیا غوښي خوري.

باید موږ او تاسو ټول له دې ناوړه عمل څخه ځانونه وساتو. دا هم په غیبت کي راځي، چي دوه نفره ناست وي، یو نفر غیبت کوي، هغه بل ورته ووایي، چي غیبت مه په کښي کوه! غیبت کوونکی ورته ووایي: چي دا غیبت نه دی، دا خبره ده ته مخامخ هم کوم، دا هم په غیبت کي شمېرل کېږي.

غیبت کول د شیطان د چلونو څخه یو چل دی، چي غواړي په دې سره انسان د جهنم کندي ته وغورځوي.

د کار موندني اعلان

د کندهار په اطلاعات او فرهنګ ریاست کي لاندي بستونه خالي دي.

شمېره	دندي عنوان	بست	شرایط	
			کاري تجربه	تحصیل او رشته
۱	د آثارو د ویزې او کنترول لوی مدیریت	۴	یو کال	د اجتماعي علومو او لرغونپوهني په برخو کي د لیسانس سند درلودل.
۲	خبرنګار	۵	د دندي مربوط کاري تجربه	د ژورنالیزم پوهنځي سند
۳	د مجلې ډیزاینر او IT مدیریت	۵	د دندي مربوط کاري تجربه	د کمپیوټر ساینس پوهنځي سند او یا هم د معلوماتي ټکنالوژۍ د کورسونو سند.

هغه اشخاص چي پر پورتنیو شرایطو برابر وي، خبر ورکول کېږي چي د ۱۴۴۵/۱۰/۲۸ نېټي څخه بیا د ۱۴۴۵/۱۱/۹ نېټې پوري دي د نوماندۍ فورمې د ولایت مقام د بشري سرچینو د پراختیا ریاست، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو آمریت او د اطلاعات او فرهنګ ریاست څخه تر لاسه کړي او تر خانه پرۍ وروسته دې د اعلان تر بشپړېدو مخکي یادو مربوطه ادارو ته وسپاري.

دورکي اعلان

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د سجاد د علي احمد د زوی او محمد علي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په کندهار ښار کي دې یې په اوله ناحیه کي د امام بارې مسجد ته ور وړي او یا دې د ټیلیفون په دې شمېره دې تماس ونیسي:
0708877117

ټولنیزي رسنۍ

اسامه "جوهري":
خبره په اصل کي داده چي ۳۱۳ څکه ګټله چي هغوی کي ایمان وو، که د هغوي نیم ایمان په دې دوه میلیارډه مسلمانانو باندي تقسیم کړې، نو همدا د ټول امت د برم او عزت له پاره کافي ده.

اوسنی دا د شهوتونو په جوش کي ګرم امت ته که سل ټکنالوژۍ ورکړې، بیا به هم بې وسه یي.

زه کله نا کله د غربي لیکوالانو تاریخونه لولم، دوی وایي: د مسلمانانو حاکم به چي یوازي یو خط کوم کافر پاچا ته ولېږی، بیا په هغه سلطنت کي خو به ورک ول، لړزه به وه او په سختو تشویشونو کي به بحثونه کېدل چي اوس څه وکړو؟

ډاکټر صفت الله "صفت":
مطالعه کول داسي مثال لري، لکه: برقي موټر چي په چلاو چارچېږي، که چلاو ور نه کړې، بېټرۍ خرابوي.

که مطالعه و نه کړې، ذهن پر یوه حالت پاته کېږي، رشد نه کوي، هره ورځ زموږ ذهن ته باید نوي څه واوربدل سي.

حاجي محب الله "احمدي":
عمر او روزي په حساب او کتاب ده، نو له هیچا مه بېرېږه او مه طمع ځني کوه!

ستار "ستوری":
مدرسه او مکتب زموږ د روزني کورونه دي، د دوی ترمنځ جنجالونه، نه اسلامي ثقافت دی او نه هم ملي.

سفر محمد "ځلاند":
حضرت علي (رض) فرمايي: اودس د ځوانانو په څېر تازه کړه، لمونځ د سپین ږیرو په څېر وکړه او دعا د ماشومانو په څېر وکړه!

بشیر "ارمان":
د نړۍ تر ټولو سپک او بې ایمانه خلک هغه دي چي د ځان ښه ثابتولو له پاره بل انسان بدناموي!

محمد "عمار":
په اسلام کي د ډېري مطالعې خاوند، تکړه او ځیرک عالم په یوه څېړنه کي وایي: د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب د صحیحو حدیثونو مجموعه ده.

محمد قاسم "وزیري":
اسلام ښځو ته له دې امله د حجاب امر کړی، چي عزت او عفت یې خوندي او ټولنه له اخلاقي فساد څخه وژغورل سي.

راضیه "مفیضه":
د هوږې څلور دانې وټکوئ او له څلورو کاچوغو شاتو سره یې ګډه کړئ، د ماخستن په وخت کي یې په نهاره وخورئ، د معدې زخم له پاره ډېره فایده لري.